سلطان جان کلیوال ۲۰۱۸/۰۳/۲۲

# تبعیض څه شی دی؟

د ملګرو ملتو د نړیوال سازنان د بشر د حقوقواداری تبعیض داسی تعریف کړیدی:« په انسانی ټولنو کی تبعیض هسی یو سلوک ته ویل کیږی چی د انسانانو یوی ډلی ته د بلی ډلی څخه په متفاوت نظر و کتل شی.» یا هغه عمل دی چی یوشی یا کس دبل نه بیلوی.

په عمومی صورت که د یوه کس په مقابل کی تبعیضی عمل صورت نیسی، له دی کبله به وی چی دا شخص په یوی بلی ډلی یا ګروپ پوری تړلی دی، نه د هغه د شخصی صفاتو له کبله.

د تبعیض کلمه د لومړی وار د پاره په (۱۷م) پیړی کی د لاتینی ، Discriminat له کلمی څخه چی معنی یی «بیلوالی» دی انګلیسی ژبی ته راغله او د غلامی په ټوله دوره کی وجود لرلی دی. کله چی د متحده ایالاتو (۱۶) سم جمهور رئیس ابراهام لینکلن د کورنی جګړی په وروستیو کی په (۱۸۶۴م) کی لاس لیک کړ او په (۱۸۶۵م) کانګرس تصویب کړ، نو د غلامی د دوری دختمیدو اعلان وشو، ورسره سم په قانونی توګه د تبعیض ټولی بنی لغوه شوی، خو په عملی توګه تر ننه پوری دوام لری.

د اخلاقی علومو فیلسوفان تبعیض ته د یوه مضر، بی ګټی او زیان رسونکی عمل په سترګه ګوری او په نسبی توګه یی تر بل هرڅه نه د ټولنیزی بی نظمی او سترو نارامیو د جوړیدنو د پاره لوی لامل بولی.

تبعیض لرل په حقیقت کی یو ډول ناروغی ده چی ځنی کسان پری اخته کیری او د ځینو داسی دلایلو په جوړیدو سره هغی ته د خلکو په منځ کی د پراختیا د پاره هلی ځلی کوی چی د خپلی لوړتیا د پاره یی پخپله جوړکړی او کوم عدلی او ټولنیز مشروعیت نه لری.

تبعیض په حقیقت کی هسی یو ظلم او ستم دی چی یوه انسان یا د انسانانو یوی ډلی ته د کامل او پوره انسان یا انسانانو په سترګه نه ګوری او د ډیرو بشری حقوقو مستحق یی نه بولی. د تبعیض قربانیانو سره تل د ذلیل، ټیټ او خوار انسان په توګه معامله شویده.

د ټولنیزو علو پوهان په بشری ټولنو کی د تبعیض د را منځ ته کیدو دری اساسی ډولونه داسی را په ګوته کوی:



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

۱ ـ د ډیرو ګټو د لاس ته راوړلو د پاره سیالی: د تبعیض په دی بڼه کی زیار ویستل کیږی چی د ټولنی په مادی منابعو باندی شخصی یا ګروپی کنټرول تر دلاسه شی.

۲ ـ د لوړ ټولنیز دریځ د پاره سیالی: د ځان او خپلی ډلی د پاره د ډیر عزت او ټولنیز اعتبار د لاس ته راوړلو په هدف.

۳ ـ په نورو د خپل فوقیت د منلو او هغه ته د مشروعیت ورکولو په هدف: دا ډول تبعیض طباقتی بنیاد لری، د لوړی طبقی خلک چی خپله لوړتیا خپل طبیعی حق ګڼی، زیار باسی چی هغه په ټولو ومنی او قانونی بڼه ورته ورکاندی.

تبعیض په لاندی ساحو کی د ډلی او یا شخص له خوا را منځ ته کیږی:

۱- په عمر کی تبعیض: دی ډول تبعیض سره واړه او زاړه ډیر مخامخ کیږی او هغوحقوقو ته یی زیان رسوی چی باید ویی لری.

۲- طباقتی تبعیض: د لوړی او شتمنی طبقی خلک د غریبی او ناداری طبقی پوری تړلی خلک هیڅکله د ځان سره برابر نه بولی.

۳- د معیوبینو سره تبعیض: دا د تبعیض تر ټولو بد ډول دی چی معیوبین ورسره د جسمی ناتوانی له مخی مخامخ کیږی.

۴- ژبنی تبعیض : په ټولنه کی د مسلطی ژبی و یونکی د نورو ژبو په تقویه کیدو کی د خپلی ژبی بی دلیله تاوان وینی، یاداچی دا د کوم داسی قوم یا قبیلی ژبه ده چی دوی ورسر خصومت لری، نو نه پریدی چی بله ژبه هم د دوی د ژبی په څیر پر مختګ وکړی.

۵- د نوم سره تبعیض: په نړي کی د اکثرو کلچرونو نومونه معلوم دی، لکه چینایی نومونه، هندی نومونه،روسی نومونه، عربی نومونه او نور. په ډیرو ټولنو کی د نوم د ځرګندیدو سره سم ډیر خلک حساسیت ښکاره کوی او نه غواړی چی د داسی نوم لرونکی په خپله خواکی و وینی لکه همدا نن چی په ډیرو هیوادونو کی د اسلامی کلچر د نومونو سره د نورو کلچرونو سلوک تبعیضی دی.

۶- د لباس سره تبعیض: عیناً لکه د نومونو سره تبعیض دی چی اکثراً مهاجرین ورسره مخا مخ کیږی.

۷- د ملی هویت سره تبعیض: دی تبعیض ته کله ناکله نژادی تبعیض هم وایی چی اکثراً د پوټکی د رنګ او بدنی جوړښت او یوه نژاد په مقابل کی تر سره کیږی. لکه همدا اوس چی په غربی نړی کی د مهاجرو سره د ځینو کړیو له خوا په شدت سره جریان لری.

۸- منطقوی تبعیض: منطقوی یا جغرافیه وی تبعیض د ملی یا نژادی تبعیض سره ورته نه دی. دا هسی تبعیض دی چی د یوی مشخصی سیمی د اوسیدونکو سره د تنګ نظری له مخی تر سره کیږی، چی د خبرو په وخت کی د مخصوصی لهجی په کارولو او یا د لباس له مخی د دی تبعیض سره مخامخ کیدلی شی.

۹- مذهبی او عقیدتی تبعیض: په نننی نړۍ کی مذهبی یا عقیدتی تبعیض د بل هر ډول تبعیض نه په شدت او کثرت سره وجود لری. د دی تبعیض له کبله هره ورځ بیشمیره کسان قربانی کیږی لکه د یهودو او مسلمانانو ترمنځ، یا د شعیه او سُنی مسلمانانو تر منځ،یا د افراطی او میا نه رو سُنیانو تر منځ او یا هم د هندوانو او مسلمانانو تر منځ د ګرمو جګړو په بڼه وجود لری.

۱۰ـ د جنسیت تبعیض: دا هغه تبعیض دی چی د نارینه ، ښځینه اونر ښځیو په وړاندی په ټوله نړۍ کی په لږه یا ډیره اندازه وجود لری. په دی تبعیض چلونه کی د نارینه برخه درنه ده او ښځه نه یواځی داچی د ځان سیاله نه بولی، بلکی په ځینو ټولنو کی هغی ته د خپل مال په سترګه ګوری. نرښځیان بیا هغه مظلومه ډله ده چی نه ورته د نرو په صف کی ځای شته او نه د ښځو په قطار کی. دوی ته دواړه نارینه او ښځی د حقارت په سترګه ګوری او ژوند یی په سختۍ سره تیریږی.

د دنیا په ټولو هیوادونو کی د ۲۰۱۵م کال د احصاییی له مخی جنوبی کوریا هغه هیواد دی چی د ښځینه مستخدمینو شمیره پکی د فیصدی له مخی په ټوله دنیا کی لوړه او په سلو کی ۳۷ تنو ته رسیږی، استونیا دویم ۲۷ سلنه، جاپان دریم ۲۶ سلنه امریکا اوم ۱۹ سلنه او ایټالیا په ۵ سلنی سره، پنځه دیرشم ځای لری.

برسیره پردی، د تبعیض نور ډولونه هم شته چی ډیر ارزښت نه دی ورکړشوی نو د یادولو نه یی صرفنظر کوم.

باید و ویم چی په نړی کی ډیر لوی او واړه سازمانونه د دی ناوړه عمل د ودریدو او ورکیدو د پاره کلکه مبارزه کوی خو لکه څنګه چی د جنایتونو له منځه تلل اسان کار نه دی، دا مصیبت هم ممکن تر ډیرو مودو پوری دانسانانو غاړه خوشی نکړی. خیر دی وی.

پای.